مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سمیع الدین افغاني ۲۰۱/۱۰/۰۱

# د وطن اتلانوته

ژوند کي کله ښي شيبې، ساړه ايام شته
لکه ورځ چې مازيګرلري ماښام شته

کار،زحمت او ارادي چې سره يو وي
بيا فرصت دښوشيبو دښه انجام شته

د وطن مور ته به وياړ او افتخارشي
چې په کړو يې ولسونو ته پيغام شته

داغيار دا ترپو تندي د تير وختو دی
په مالت کي يې بدمرغه او بدنام شته

کوم غليم چي مو د ملک بربادی غواړي
دي بې رحمو خپل تاريخ ته کله پام شته

په فريب، ريا دوکه کاذب شهرت کي
د پردو مخو نوکر دوئ کي غلام شته

افغاني خپل اتلانو باندي وياړو
چې يې فکر د وطن ولس اوقام شته
-----------------------------
سمیع الدین افغاني
۱- ۱۰ – ۲۰۱۸
م۰کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ